# خویندو، یوازې په پوهاوي او یو موټي مبارزې سره کولای شو د زبیښاک زنځیرونه مات کړو!

د ظلم پایښت، سپکاوي، جنسي آزار، ګواښونو، وژنو او په سلګونه نورو ډارونکو پېښو افغانستان یې د ښځو لپاره په یو لوی زندان بدل کړی. سره له دې، چې زموږ ټول ولس د بنسټپالنې، د امریکا او ناټو نیواک او د اوسني فاسد دولت تر ولکې لاندې د مرګ شیبې شماري، لیکن ورځ تر بلې زموږ د بدمرغه ښځو پر اوږو د استبداد او بې نیاوو دغه پیټي درندیږي او ملا یې ورته ماتوي.

په تیرو پرله پسې کلنو کې د افغانستان ښځې د انسان وژونکو بنسټپاله بانډونو لومړنۍ او تر ټولو آسانه قربانۍ وې، لیکن د امریکا او د متحدینو په وسیله د افغانستان د نیواک یوولس کاله کیږي، چې د افغان ښځو بدبخته او دردونکي وضعیت څخه په بې شرمۍ او خاینانه توګه سیاسي او تبلیغاتي ګټه پورته کیږي. غربي رسنیو هڅه وکړه، چې په دروغو او کاذبو خپرونو خپل دغه لوټماره جګړه «د ښځو لپاره د آزادي بخښونکې جګړې» په نوم تبلیغ کړي. سره له دې چې د امریکا او د ګوډاګي دولت او په اصطلاح د بشري حقونو بنسټونو د شعارونو په لړلیک کې د ښځو نوم لومړنی مقام لري، لیکن په عمل کې د ښځو پروړاندې د هڅوکي ماتوونکي فشار د مخنوي لپاره هیڅ قدم نه دی پورته شوی او برعکس د وخت په تیریدو سره هره ورځ زموږ د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي کچه تربل هر وخت لوړیږي او د ښځو د حقوقو د ښو لاندې کولو ځناورو ته د خوندیتوب او ډاډ ځای پیدا کیږي.



د افغانستان له نیواک څخه یوازې څو ورځې وروسته، جورج بوش اعلان وکړ« زموږ د عملیاتو له برکته افغانې ښځې په بند کې ندي، هغوی آزادې دي.» د ۲۰۰۱ کال د نوامبر په میاشت کې لورا بوش وویل: «د تروریزم له موخو څخه یو هم په وحشي توګه د ښځو ځپل دي... دا مهال افغانې ښځې د پخوا په څیر په خپلو کورنو کې زنداني نه دي... د تروریزم پروړاندې مبارزه په عین حال کې د ښځو د حیثیت او حقوقو لپاره مبارزه ده.» ان تر دی، چې د آلمان د بهرنیو چارو وزیر، ژوزف فیشر پر افغانستان باندې د یرغل په لومړیو کې نظامي یرغل پر حقه وبولو او په ولس غولونکې توګه یې ویلې وو: «د هرڅه وړاندې زموږ موخه د افغانستان د ښځو حقوق او د هغوی لوټ شوی پت راستنول دي.»

دوی په داسې حال کې زموږ د ښځو پروړاندې په دغه شیطانۍ لاس پورې کړو، چې په خپل ګوډاګي دولت کې یې د بشري حقونو او د ښځو حقونو تر ټولو ناقضو اشخاصو او جهالت کسبه ځواکونو او عناصرو ته ځای ور کړو او تر ننه یې د ټوپکسالارانو او د ډول ډول بنسټپالو لاسونه د ښځو پروړاندې د هر ډول تاوتریخوالي او بدلمنۍ لپاره خلاص پریښې دي. د یوې لسیزې بمباریو او وژنو وروسته، امریکا اعلان وکړو، چې «موږ د طالبانو سره جګړه نه کوو» او نانځکې یې په ارګ کې د منځنیو پیړیو دغه موجوداتو ته د «ورور» خطاب کوي او په واک کې د جنایت دغه مجسمو د ورګډولو لپاره شپه او ورځ نه پیژني.

حقیقت څرګند دی، چې «حق نه ورکول کیږي، بلکې اخیستل کیږي» په همدې علت د امریکا او غرب هغه ادعا، چې ګواکې ښځو ته د هغوی د آزادۍ د ورکوونې لپاره یې پر افغانسان یرغل کړی د احمقانه او بیشرمانه دروغو پرته نورهیڅ نه دي. دوی نه یوازې دا چې د افغانو ښځو لپاره یې هیڅ کار نه دی کړی، بلکې په بیدریغه توګه تر ټولو مرتجع او ښځو ضد ډلو او کسانو څخه یې ملاتړ او د یو فاسد او ښځه ګواښونکي دولت په رامنځته کولو یې زموږ محرومه ښځې لا ډیر د زبیښاک او تاوتریخوالي په زنځیر کې راونغاړلې. دوی په خپلو ړندو بمباریو او په پرله پسې ډله ییزو وژنو، کړاونو او ډیری داسې نورو مصیبتونو له لارې زموږ د ولس په ځانګړې توګه د ښځو په ټپونو مالګه ور ودوړوله.

په دې موده کې د غرب او لاسپوڅي دولت د افغانستان د ښځو لپاره ټوله لاسته راوړنه څو سمبوليک او نمايشي او کنوکي پروپاګندا وه، چې هغه هم د يو لږ اقليت ښځو لپاره و او د ډېرو لپاره يې هيڅ مثبت بدلون نه درلود. هغوی څو سرکاري ښځې يو او بل ځای، ځای پر ځای کړې او د هغوی څخه يې د افغانو ښځو د آزادۍ سمبول په توګه پراخه غلطه ګټه پورته کړه. د ښځو د وزارت بنسټ ايښودنه، ټوپکسالاره پارلمان ته ۶۸ ښځو ليږل، د وزير او والي په توګه د څو ښځو ګمارل، د ښځو پروړاندې د تاوتريخوالي مخنيوي قانون وضع کول او... دا ټول هغه تبليغاتي او فرمايشي هڅې وې، چې په ټولو لسو کلنو کې غربي رسنيو هغه د «افغانو ښځو د آزادۍ» بيلګه تبليغه وله، ترڅو د افغانستان په جګړه کې د خپلو خلکو ملاتړ خپل کړي.

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۲۶ مه د «ويکي ليکس» سايټ د سي.آی.ای يو پټ سند خپور کړ، چې په هغه کې وړانديز شوی و، چې د اروپا د خلکو د ترغيب لپاره چې د افغانستان له جګړې څخه ملاتړ وکړي، نو د افغانو ښځو څخه په پراخه توګه بايد استفاده وشي او له هغوی څخه يو شمير يې په رسنيو کې برجسته او داسې وښودل شي، چې ګواکې روانه جګړه د هغوی د ښيرازۍ لپاره ده او په دې ډول په افغانستان کې د آيساف موخې انساني وښودل شي.

د دغه انسانيت ضد پربنسټ وو چې کله به په غربي رسنيو کې د عايشې کيسه راپورته کيدله او يو شمير بې شرمه افغان ښځې به د نړيوالو د دې او هغو غونډو ته دعوت کيدلې، چې د ډالر په بدل کې د نيواک پايښت لپاره چغې او سورې ووهي، کله به د امريکا په سپينه ماڼۍ او امپرياليستي نهادونو کې د امريکا روزل شوي او غونډو ته د ښکلا وربخښنې ښځو ته جايزې ورکول کيدلې، څو د هغوی پروړاندې د افغانستان د ښځو په استازي توب مننه څرګنده کړي، چې «د تروريزم پروړاندې جګړې» هغوی ته آزادي وربخښلې ده. ليکن په افغانستان کې هره ورځ د ښځو ځانوژنې او ځانسوزونې، د صنوبر، سايمې، انيسې، زر بي بي، ګل افروز، شکيلا، لال بي بي، عزيزه او دغه راز زمونږ نورو معصومو خويندو باندې جنسي تيری او د ښځو او نجونو پروړاندې د نورو ناوړو چلندونو او ډارونکو جنايتونو پرده واچول شوه او د غرب د خلکو له سترګو پټ ساتل شوي دي.

امريکا؛ افغانستان د مخدره توکو د مافيا، د فساد او د نړۍ بې دروازې هيواد په پايتخت اړولو عملاً ښځې يې له نورو بلاګانو سره لاس او ګريوان کړې. اوسمهال افغانستان د ميندو د مړينې له پلوه د نړۍ لړليک په سر کې شتون لري. د واکمنې خوارۍ او نيستۍ لومړني قربانيان ښځې ګرځيدلې دي او د نورې تباهۍ پر لور وړل شوي دي. د ښځو د ځانوژنې کچه له نورو هيڅ هيوادونو سره د پرتله کيدو وړ نده. جنسي تيری او د ښځو قاچاق ډير شوی دی. د افغانستان قضايي ارګانونو کې بيعدالتي او ناوړه چلند د طالبانو له تورې دورې څخه ډير شوی دی، د دې پربنسټ د افغانستان د محکمو زياتو قضيو کې په خپله مرتکب زمونږ په درديدلو ښځو د روحي او جسمي فشارونو لامل ګرځي او اوس دغه جنايت خوښونه تر هغه بريده رسيدلې، کرزی طالبانو ته چې د ښځو دښمنان او ناوړه انسانان دي، د عدليې وزارت او سترې محکمې وړانديز کوي، څو يو ځل بيا په بيرته لاسونو سره خپل وحشي قوانين زمونږ پر بدمرغو ښځو تحميل کړي.

پر ښځو باندې ظلم او زياتی ټولنيز، اقتصادي، او فرهنګي ژورې ريښې لري. هيڅوک او ځواک نشي کولای چې ښځو ته آزادي او هوساينه راولي، مګر دا چې په خپله پوهه ترلاسه کړي او يو موټی د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړي. په هغو هيوادونو کې چې ښځې خپلو لومړنيو حقوقو ته لاسرسی موندلی، د څو لسيزو د ښځو سربښيندنو او د يو موټي مبارزو سازمانونو د فعاليتونو پايله وه. هغه حقوق چې انسانان يې د مبارزې او زيار له لارې ترلاسه کړي، په آسانۍ نه ښايي چې له لاسه يې ورکړي. ليکن په افغانستان کې چې ښځو ته د ورکول شوي حقوقو خبرې کيږي، نن ورځ پخپله امريکايان او ګوډاګيان يې چيغې وهي، چې د بهرنيو ځواکونو له وتلو سره به «لاسته راوړنې» له لاسه ولاړ شي!

تر هغه مهاله چې يوه دموکراتيکه او عادلانه ټولنه زمونږ په هيواد کې رامنځته نشي، پر ښځو باندې د دغو وحشيانو د ظلمونو ريښه به پرې نشي. اوسمهال د هر جنس بنسټپالان که هغه طالبي اوسي او که تنظيمي او که څه هم «ولايت فقيه» زمونږ په هيواد کې د امريکا او ناټو د تمځاينو رول لوبوي، له يو سره ټول د ښځو قسم خوړلي دښمنان او د ښځو پروړاندې د جنايتونو د ترسره کولو ضمانت کوونکي دي. د دې پربنسټ د بنسټپالۍ او نيواکګرو پروړاندې جګړه د ښځو د خلاصون لومړی ګام هم بلل کيږي. بايد پوهه ښځې سره راټولې شي، په دې جګړه کې خپل رول څرګند کړي او د هيواد نورو ښځو ته دا پوهه ورکړي، چې د دې واکمن ظلم او زياتي

پروړاندې چوپتیا د ظلم د ډیریدو لامل ګرځي.

په هغو ټولنو کې چې ښځې په اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي فعالیتونو کې فعالې وي، هلته د جنسي نابربرۍ میزان ټیټ شوی دی. د دې څرګنده بیلګه کردستان یادولی شو، چې ښځې په دې توانیدلي دي چې په ټولو برخو کې ان تر وسله والې مبارزې له سړو سره اوږه په اوږه د آزادۍ غوښتنې جګړې لپاره ګام پورته کړي او د مټ په زور خپلو حقوقو ته لاسرسی ومومي، په همدې دلیل د مذهب په جامه کې بربریت نه دی توانیدلی، چې هلته ریښه خپره کړي او ښځې له خپلو کارونو لاس په سر شي.

له دولت څخه د دین جلاوالی او د جنسي، قومي، مذهبي، ملي او طبقاتي توپیر او نابرابرۍ څخه پرته ټولنه کولای شي د ښځو د حقوقو ضمانت وکړي. په دغه سیستم کې ښځې له سړو سره یوځای کولای شي، د ښځو او انسانیت ضد ټول قوانین له منځه یوسي او په ټولو برخو کې فعال رول ولوبوي. په اوسنیو شرایطو کې چې عملاً زموږ د هیواد له نیم څخه ډیر نفوس له سیاسي او ټولنیز ژوند څخه لیري ساتل شوي، نه ښایي چې افغانستان د پرمختګ پر لور روان کړي. هغه مهال چې محرومې ښځې او سړي په پوهاوي سره اوږه په اوږه د هیواد سمسورتیا لپاره کار وکړي، پرته له کوم شک څخه زموږ ټپي افغانستان به بل لوری ونیسي.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د افغانستان د ښځو په څواک کلک باور لري او ویاړي چې د هیواد له لږو ګوندونو څخه دی چې تل یې د خبرو او عمل په ترڅ کې د ښځو د آزادۍ په لار کې فعالیتونه ترسره کوي. موږ هغه ناوړه فکرونه او اندونه ردوو چې د سړي پرتله ښځه نیمه او «عاجزه» او کمزورې بولي او په دې اند یو چې په ځینو برخو کې ښځو په عمل کې ثابت کړي، هغه مهال چې راوچتې شي د سړو پرتله یې په هر ډول فعالیتونو کې بهتره او ښه رول لوبولی دی. موږ د هغې ورځې په هیله کې یو چې د ښځو له کادرونو څخه یوه یې زموږ د ګوند رهبریت په لاس کې واخلي.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» په داسې حال کې چې د افغانستان د مظلومو او د نړۍ نورو هیوادونو ښځو ته د ښځو نړیوالې ورځ مبارکي وایي، په تکرار سره اعلانوي چې د ښځو پروړاندې توپیر د ټولنې په ټولو حدودو کې له بې نیاوو څخه جلا نه دی، د دې پربنسټ یوازې په پوهې او یو موټې مبارزې سره کولای شو، نیواکګرو او ناوړو اعمالو ته ماتې ورکړي، ظلم او بې عدالتۍ ته د پای ټکی کیږدي او د دموکرات او خلکو حکومت د سورې لاندې د ښځو او سړو مساوي حقوقو ته لاسرسی ومومي.

**د افغانستان د همبستګۍ ګوند**

د ۲۰۱۳ کال د مارچ ۸، د ۱۳۹۱ کال د کب ۱۸